کال ۲۰۱۹



AJSC

Afghan Journalists Safety Committee

کمیته مصونیت خبرنگاران افغان

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

# کلنی راپور

۲۰۱۹

ددې اثر د چاپ او خپراوي ټول حقوق د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټې او د افغانستان د نوي نسل موسسې سره محفوظ دي. د ناشرانو له لیکلې اجازې پرته هرډول کاپي کول، فوټوکاپي او بریښنایي خپرواى يې منع دى.

/ajsc_af /safetycommittee www.ajsc.af

د ټولنیزو رسنیو پته:

د موندنی آدرس:

د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټی

قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

# د منځپانګو جدول

**عناوین** | **صفحه**


پیلامه........................................................................................................................ ۱

میتوډلوژي........................................................................................................................ ۲

په ۲۰۱۹ کال کې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی.......................................................................... ۳

چند نمونه قضایای تهدید و خشونت علیه خبرنگاران .................................................. ۷

د تاوتریخوالي او ګواښونو څو بېلګې.......................................................................................... ۷

د ملي یوالي حکومت په پنځه کلنه دوره کې د بیان ازادۍ،رسنیو او خبریالانو وضعیت.................................. ۸

اطلاعاتو ته لاسرسی............................................................................................................... ۱۰

د اطلاعاتو په شریکولو کې د دولتي مسوولینو نه همکاري................................................................... ۱۱

تروریستي ډلو ته خبریالان د نرمو خو مهمو هدفونو په توګه.................................................................... ۱۲

د ۲۰۱۸م کال د ټاکنو په پایله کې راتلونکي نوي حکومت نه د خبریالانو او د هیواد د رسنیو د کورنۍ
غوښتنې، وړاندیزونه او هیلې............................................................................................... ۱۲

پایله.............................................................................................................................. ۱۳

سپارښتنې........................................................................................................................ ۱۴

**پیلامه**

۲۰۱۹ د افغانستان لپاره مهم کال و. د دې کال په اوږدو کې له دې سربېره چې د سولې هڅې ډېرې ګړندۍ وې، خو په هېواد کې د تاوتریخوالي کچه هم مخ په لوړه روانه وه. د ولسمشریزو ټاکنو په ګډون د سولې هڅو او د خبرو اترو پوښښ د سر. کال ګرم سیاسي موضوعات و، چې د نوي رسنیز پوښښ په محوریت را څرخېده او رسنیو او خبریالانو وکولای شول، چې په بریالیتوب یې تر عهدې راووځي.

له دې سربېره چې په هېواد کې په عمومي توګه د تاوتریخوالي کچه لوړه وه، خو د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې موندنې ښيي، چې ۲۰۱۹ کال کې د خبریالانو د وژنو او ټپي کېدو په پېښو کې کموالی راغلی او په دې کال کې افغانستان د خبریالانو او رسنیو لپاره تر ټولو د ګواښمن هېواد مقام کې نه دی راغلی؛ خو په ټوله کې لا هم د خبریالانو او رسنیو په وړاندې د تاوتریخوالي او ګواښونو کچه د پام وړ ده او باید د را کمولو لپاره یې جدي هڅې وشي.

هېواد په عمومی ډول په ال ۲۰۱۹ کې د اقتصادی بحران سره مخ و چې د هېواد رسنۍ یې د سخت اغیز لاندې راوستې دي او د هېواد ۴۰ رسنۍ د اقتصادی ستونزو له امله تړلې شوې. هم دا رنګه، ۴۰۹ خبریالان او د رسنیو کارونکی یې له دندو په پرېښدلو مجبور کړي.
له بلې خوا، د هیېواد د رسنیو او د بیان د آزادی د ودې په خاطر سر. کال د ۲۵ نوي رسنیو بنسټ هم کېښودل شو.

دا د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې دولسم راپور دی، چې د خبریالانو، رسنیزو کارکونکو او بیان ازادۍ د وضعیت په اړه شمېرنې، معلومات، اطلاعات او تحلیل خپروي، ترڅو د رسنیزې او بیان آزادي حوزې کارکونکي او مینه وال د بیان آزادي، رسنیزو کارونو او د خبریالانو په وړاندې د تاوتریخوالي د وروستیو او اړینو تحولاتو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي.

په دې راپور کې د دې ترځنګ چې په ۲۰۱۹ کال کې د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو په وړاندې د تاوتریخوالي او ګواښونو په اړه معلومات را اخیستل شوي، د خبریالانو او بیان ازادي په برخه کې د ملي وحدت حکومت په پنځه کلنې دورې په ځانګړې توګه د دې حکومت په هغو ژمنو تم شوي یو، چې د افغانستان خبریالانو ټولنې ته یې ورکړې وې.

همدارنګه په دې راپور کې نوي جوړېدونکي حکومت ته د افغان خبریالانو ټولنې له لوري یو لړ وړاندیزونه او غوښتنې هم وړاندې شوې دي.
خوندیتوب کمېټه د خبریالانو، رسنیزو کارکونکو او بیان آزادي د ملاتړ ادارو ترمنځ د مخکښ بنسټ په توګه راتلونکي حکومت ته ځانګړې وړاندیزونه لري.

## میتودلوژي

خوندیتوب کمېټه په دوامداره توګه د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو، د بیان آزادي د پراختیا، د رسنیو د ازادۍ او د خبریالۍ د مسلک په اړه شپږ میاشتني او کلني راپورونه خپروي.
کمېټې له ۲۰۱۳ کال را په دې خوا د دا ډول راپورونو خپرول پیل کړي، په دقیقه او کره توګه شمېرنې را ټولوي او د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو پر وړاندې په واقعتونو ولاړې د تاوتریخوالي او ګواښونو قضیې ثبتوي او په خپلو شپږ میاشتنیو او کلنیو راپورونه کې یې خپروي. کمېټه د قضیو د را ټولو لپاره ځانګړې پالیسي او طرزالعمل لري او ټولې پېښېدونکې قضیې د دې اسنادو په رڼا کې ثبتوي.
د دې پالیسۍ په اساس خبریالان او رسنیزو کارکونکي تعریف شوي او د تاوتریخوالي او ګواښونو په تعریفونو هم رڼا اچول شوې. کمېټه ټول هغه موارد چې د دې پالیسۍ سره سم نه وي، نه ثبتوي.
د بېلګې په توګه خبریالان د شخصي مسایلو او د کورنیو دښمنیو ښکار ګرځي، له دې امله چې دا قضیه د خبریالۍ له کارونو سره هیڅ اړه نه لري، ځکه یې کمېټه هم د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو او تاوتریخوالي د پېښو په لیست کې نه راولي.
کمېټه د پېښو د ثبت لپاره ځانګړی فورم لري او کارکونکي او همکاران یې د افغانستان په ۳۳ ولایتونو کې په دقیقه توګه او د کمېټې له کاري اصولو سره سم قضیې ثبتوي. ټولې هغه قضیې چې له ولایتونو څخه د کمېټې مرکزي دفتر ته لېږل کېږي، په مرکز کې د ارزونې د ځانګړې ډلې له لوري ارزول کېږي او د دې ډلې له تایید وروسته د قضیو په ډیټابیس کې خوندي کېږي.
کورني او بهرني معتبر بنسټونه ګولای شي د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب او د بیان ازادۍ د پراختیا او په ټوله کې د دې بنسټونو د وضعیت په اړه د پوهاوي لپاره ورنه ګټه واخلي. د دې ترڅنګ یادي اداري ګولای شي د دې راپورونو په مرسته خپلې پالیسۍ او د بیان ازادۍ په اړه خپل راتلونکي پلانونه طرحه کړي.
همدارنګه کمېټه د هغې همکارۍ په اساس چې له نړیوالو بنسټونو سره یې رامنځته کړې ده، په دوامداره توګه له دې بنسټونو سره د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ارقام شریکوي او د خبریالانو او رسنیو سره د ملاتړ په برخه کې د دوی لاسنیوی کوي.


**په ۲۰۱۹ کال کې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی**

په ۲۰۱۹ کال کې افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې په ټولیزه توګه د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۰۵ پېښې ثبت کړي، چې د وژنو، ټپي کېدو، یرغمل کېدو، ګواښونو او لنډ مهاله نیوني پېښې پکې شاملې دي.
په تېر کال کې ۵ تنه خبریالان او رسنیز کارکونکي وژل شوي، ترڅنګ یې ۱۸ تنه ټپیان شوي، ۲۵ د ګواښونو پېښې ثبت شوي، ۱۲ مورده کې خبریالان وهل ټکول شوي، ۳۳ تنو سره بد چلند شوی، ۱ تن په ناقانونه ډول له دندې ایستل شوی، ۱ تن سره غیر قانوني چلند شوی، ۳ تنه په غیر قانوني توګه نیول شوي او ۷ د یرغمل کېدو پېښې ثبت شوې.
د ۲۰۱۸ کال په پرتله د وژنو په پېښو کې ۷۱ سلنه کموالی راغلی. په ۲۰۱۸ کال کې کمېټې د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو د وژنو ۱۷ پېښې ثبت کړې وې. د ۲۰۱۹ کال د وژنو له ۵ پېښو یې د ۲ هغو مسوولیت طالبانو په غاړه اخیستی، ۱ مورد یې داعش وسله والو منلی او ۲ تنه نور د زورواکو له لوري وژل شوي.
په ۲۰۱۹ کال کې چې کمېټې په مجموعي توګه ۱۰۵ پېښې ثبت کړي، د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۳,۲۲ سلنه کموالی ښیي. په ۲۰۱۸ کال کې کمېټې د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۲۱ پېښې ثبت کړې وې.
د تېر کال د تاوتریخوالي ډېره برخه یعني ۴۲ سلنه د افغان حکومت په غاړه ده، چې د همدې شمېرو له مخې د لیست په سر کې راغلی، ورپسې وسله وال طالبان دي، چې د ۳۳ پېښو مسوولیت ور له غاړې دی، په درېیمه درجه کې ناپېژانده ډلې او افراد دي، چې د ۱۴ قضیو عاملین دي، زورواکي د ۷ پېښو، داعش وسله وال د څلورو، وسله وال غله د یوې او د رسنیو مسوولین د ۵ پېښو مسوولین دي.

د تاوتریخوالي له ۱۰۵ پېښو ۱۸ هغه یې له ښځینه خبریالانو او رسنیزو کارکونکو سره شوې دي.

په ۲۰۱۹ کال کې د تاوتریخوالي ډېرې (۳۰) پېښې په سویل ختیځ زون کې ثبت شوي. سویل زون د ۱۶ پېښو په لړلو سره په دویمه درجه کې دی. ختیځ زون تر ټولو کمې د تاوتریخوالي ۶ پېښې لري.


## د زون د قضیو سلنې او عاملین یې په کال ۲۰۱۹




## « د کال ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ پرتله »

| د قضایاو مجموع | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | فیصدی تفاوت | |
|---|---|---|---|---|
| وژل شوی | ۱۷ | ۵ | ۷۰ ٪ | فیصدی کموالی |
| ټپی | ۱۵ | ۱۸ | ۲۰ ٪ | فیصدی زیاتوالی |
| توهین او بد چلنی | ۲۳ | ۳۳ | ۴۳.۴۷ ٪ | فیصدی زیاتوالی |
| وهل او ټکول | ۲۱ | ۱۲ | ۴۲.۸۵ ٪ | فیصدی کموالی |
| ګواښ | ۳۸ | ۲۵ | ۳۴.۲ ٪ | فیصدی کموالی |
| غیر قانونی ایستل | ۱ | ۱ | ٪ | توپیر نه دی راغلی |
| غیر قانونی نیول | ۵ | ۳ | ۴۰ ٪ | فیصدی کموالی |
| برمته | ۱ | ۷ | ۸۵.۷۲ ٪ | فیصدی زیاتوالی |


## د تاوتریخوالو عاملین
## ۲۰۱۹





## د جنډر له مخې د تاو تریخوالي احصایه



## «د تاوتریخوالو شمیر د افغانستان د بیلابیلو زونونو په ترتیب»




## «د تاوتریخوالو شمیر د هیواد د بیلابیلو ولایتونو په ترتیب»



**د تاوتریخوالي او ګواښونو څو بېلګې**

د ۲۰۱۹ کال د نومبر په میاشت کې د هلمند یو تن خبریال هغه مهال چې د افغان ځواکونو له عملیاتو څخه یې راپور برابراوه او په همدې موخه یې د دې ځواکونو له کاروان سره ملتیا کوله، موټر یې د سړک غاړې په ماین ور برابر شو او د یوه لاس او یوې پښې په برخو کې سخت ټپي شو.

د پکتیکا ولایت یو تن خبریال د دې کال په جولای میاشت کې د طالبانو د زنځیري وژنو په اړه یو راپور چمتو کړی و، چې د راپور له خپرېدو وروسته د طالبانو د ګواښونو له امله مجبور شو چې دغه ولایت پرېږدي.
د دې کال په جولای میاشت کې وسله والو طالبانو غزني کې د سماع په نوم راډیو له دې امله وګواښله، چې ښځینه کارکونکې لري او یو لړ پروګرامونه د ښځینه کارکونکو له لوري پر مخ وړل کېږي. دا راډیو بلاخره مجبوره شوه، چې د ښځینه کارکونکو خپروني وځنډوي.
د پکتیکا یو تن خبریال د دې کال په جولای میاشت کې وروسته له هغه چې د والي په اړه یو انتقادي پوسټ کوي، د امنیتي ځواکونو له لوري د ژوندۍ خپرونې په جریان کې نیول کېږي او د ملي امنیت کارکوونکي یې له ځان سره یې د ملي امنیت ریاست ته بیایي. نوموړی تر درېو ساعتونو پورې د دې ولایت په ملي امنیت ریاست کې ساتل کېږي او وروسته والي ته وروستل کېږي، والي د نوموړي د نیول کېدو علت فیسبوکي پوسټ ښودلی.
د تېر کال په اګسټ میاشت کې کابل کې د خصوصي تلویزیون یوه ویانده هغه مهال چې د معاش له کمښت او د کارونو له ډېربښت څخه شکایت کوي او په دوام یې په بله خصوصي رسنۍ کې دنده اخلي او د استعفا غوښتنه کوي او د کار قانون سره سم له استعفا یوه میاشت وروسته دنده پرېږدي، خو یاده رسنۍ یې د کار او مالي حسابونو له تصدیق څخه ډډه کوي.
د ۲۰۱۹ کال په مارچ میاشت کې د بلخ ولایت یو تن خبریال چې د عطا محمد نور د وسله والو او امنیتي ځواکونو ترمنځ د نښتې راپور یې چمتو کاوه، د عطا نور د پلویانو له لوري وهل شوی او کامره او نور وسایل یې هم ترې اخیستي.
د یادونې وړ ده چې کمیټه په غیر رسمي ډول د وژنې ۵ قضیې، د ټپي کیدو ۳ قضیې، د وهلو ټکولو ۳ قضیې او د او هم دا رنګه د ګواښولو ۲ قضیې د خبریالانو پروړاندې ثبت کړې دي، خو دا قضیې د خبریالانو له دندې سره هیڅ تړاو نه لري، زکه په اوسنی راپور کې ندي شامل شوي.

کمېټه باوري ده، چې لاندې عوامل د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د کمیدو لامل شوي:

۱. د سولې خبرې اترې: په ۲۰۱۹ کال کې د وسله والو طالبانو ډېرې هڅې په دې متمرکزې وې، چې ځان د سیاسي ډلې په توګه را مطرح کړي. که څه هم دې ډلې د تاوتریخوالي په کچه کې زیاتوالی راوستی، خو په سیاسي میدان کې یې په تېر یوه کال کې هڅه کړې چې خپلې نظامي څېرې ته سیاسي پوښ ورکړي. له همدې امله یې په خبریالانو او رسنیزو کارکونکو حملې کمې کړې دي.
۲. په افغانستان کې د داعش ځپل کېدل: په ۲۰۱۹ کال کې داعش ډله په افغانستان کې سخت وځپل شوه. په دې کال کې یادې ډلې خپله ډېره برخه هغه سیمه له لاسه ورکړه، چې تر کنټرول لاندې وه او عملیاتي او تروریستي وړتیا یې تر ډېره له منځه یوړل شوه. دا ډله چې د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي په ځانګړې توګه د وژنو ستړې برخې مسووله وه، په ځپل کېدو یې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی په ځانګړې توګه د وژنو په پېښو کې هم کموالی راغلی.
۳. هغه پایلې چې د خبریالانو د خوندیتوب لپاره د هڅو په ترڅ کې ترلاسه شوې دي: په تیرو څو کلونو کې د خبریالانو د لا ښه خوندیتوب لپاره پراخې هڅې ترسره شوې دي. د خبریالانو د ملاتړ ادارو په ځانګړې توګه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په داوامداره توګه له حکومتي ادارو، رسنیو او خبریالانو سره کار کړی ترڅو د خبریالانو د خوندیتوب لپاره لازمې تابیاوې په پام کې ونیسي. له خبریالانو سره د هغوی د ښه خوندیتوب په خاطر د پوهاي برخه کې کار،د پالیسیو جوړول، رسنیو ته امنیتي کړنلارې او لارښوودونه، خبریالانو او رسنیو ته د ساتونکو وسایلو ویشل لکه زغره ایزې خولۍ او واسکټونه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له هغو هڅو څخه دي چې د خبریالانو د خوندیتوب برخه کې خورا ګټورې تمامې شوې دي.

کمیټې په ۲۰۱۸او ۲۰۱۹کلونو کې خبریالانو ته له ۳۰۰جوړو نه زیاتې زغره ایزې خولۍ او واسکټونه په ټولو ولایتونو کې ویشلې دي او ترڅنګ یې هغوی ته د خوندیتوب تدریسیپروګروامونه جوړ کړي دي. د کمیټې هڅې ددې لامل شوې چې یو ګڼ شمیر رسنۍ د خپلو کارکوونکو د خوندیتوب لپاره په ځانګړې توګه د هغو خبریالانو لپاره چې د خبرونو د پوښښ لپاره ساحې ته ځي، ترلاس لاندې ونیسي، چې دغه کار پخپله د تاوتریخوالي د راکمیدو برخه کې د پام وړ مرسته کړې ده. د کتابونو چاپ او د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب لارښوودونه او د هغوی په واک کې یې ورکول، د بیړنیو شمیرو ورکول، په کړکیچنه اوضاع کې د هیواد په بیلابیلو سیمو او ولایتونو کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د ولایتي او سمیه ایزو همکاران لخوا د جدي ګامونو پورته کول ، د دولتي مسوولینو قانع کول او هم د ملي او نړیوالو بنسټونو مرسته را جلبول هغه څه دي چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له لوري تر سره شوي او د خبریالانو د خوندیتوب برخه کې یې ډیره مرسته کړې ده.

۴. په افغانستان کې د بهرنیو خبریالانو د حضور کمیدل: په تیرو څو کلونو کې په افغانستان کې د بهرنیو خبریالانو حضور خورا کم شوی دی. د بې پولې خبریالانو د رپوټ له مخې، له ۲۰۱۴کال راهیسې په افغانستان کې د بهرینو خبریالانو د حضور کچه نیمايي ته راټیټه شوې ده. په افغانستان کې د بهرنیو رسنیو او خبریالانو را کمیدل او د نړیوالو رسنیو د لیوالتیا را کمیدل هم چې تر ډیره د بهرنیو ځواکونو له تدریجي وتلو سره تړاو لري، د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کچې د راکمیدو یو بل لامل ګڼل کیدای شي.

**د ملي یوالي حکومت په پنځه کلنه دوره کې د بیان ازادۍ،رسنیو او خبریالانو وضعیت**

د ملي یوالي حکومت له رامنځته کیدو څخه مخکې او د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو لومړي پړاو څخه وروسته، د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د ژورنالستانو د فدراسیون او نورو رسنیزو بنسټونو په ملاتړد خبریالانو د خوندیتوب او بیان ازادۍ تأمینولو په موخه د یو ژمن لیک طرحه ترتیب او له رسنیو او خبریالانو سره په تفاهم یې په ۱۳ مادو کې یو ژمن لیک برابر او د تآید په موخه یې له دواړو کاندیدانو څخه چې دوهمې دورې ته یې لار موندلې وه لاسلیکونه واخیستل.

په دې ژمن لیک کې لاندني موارد ذکر شوي وو:په دې ژمن لیک کې لاندني موارد ذکر شوي وو:

د ټاکنو دواړو مخکښو کاندیدانو ژمنه وکړه چې د رسنیو د پرمختګ او بیان د ازادۍ په برخه کې به د هیڅ قانوني کړنې څخه دریغ ونکړي او همدرانګه د بیان ازادۍ خوندي او د رسنیو په برخه کې به هر اړخیزه مرسته کوي.دوی د بیان ازادي د افغانستان د خلکو قانوني حق وګاڼه او ژمنه یې وکړه چې د خلکو دا حق لکه څنګه چې په قوانینو کې ذکر شوی دی هغسې به یې تامینوي.
د رسنیو او خبریالانو له حقه حقونو څخه ملاتړ، د هغو دوسیو چې په سلیقوي شکل سره خبریالانو ته جوړې شوې وي د تعقیب له جریانه ویستل، د وژل شویو خبریالانو د دوسیو جدي څارنې او ارزونې.
د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي عاملینو ته د قانون په رڼا کې سزا ورکول او همدارنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون اجرا او توشیح کول،د هیواد د امنیتي ادارو په نصاب کې له خبریالانو سره د چلند په اړه یو مضمون شاملول،
د خبریالانواو رسنیو د کارکوونکو د ساتنې او محافظت لپاره کوښښ او هڅې او همدرانګه د هر ډول تاوتریخوالي مخنیوی د دې ژمن لیک له مهمو رکنونو څخه وو چې ډاکټر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله د هغې په پای کې لاسلیکونه کړي وو.
همدارنګه په دې ژمنل لیک کې ذکر شوي وو چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې خپل مسوولیت په صحیح او قانوني شکل سره ترسره کړي او همدارنګه د رسنیزو فعالیتونو د یو تنظیمونکي بنسټ په توګه به په ټول هیواد کې له ټولو خبریالانو او رسنیو څخه په موثره توګه هر اړخیز قانوني ملاتړ کوي.
د هیواد د جزا په قانون کې د ځینو مادو ځای په ځای کول تر څو په رڼا کې یې هغو اشخاصو ته سزا ورکړل

د خبریالانو د دندو د خوندیتوب په موخه د یو نوي قانون رامنځته کول او همدارنګه د کار قانون په چوکاټ کې د خبریالانو د ملی ملاتړ تر عنوان لاندې د صندوق تشکیلول او د یاد صندوق د مالي ملاتړ لپاره هڅې د دغه ژمن لیک له نورو مهمو مواردو څخه وو.

له پورتنیو مواردو څخه تر ټولو لومړی کار اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون و چې د ولسمشر لخوا د ملي یووالي حکومت په لومړنیو ورځو کې توشیح شو.
په هماغه لومړنیو ورځو کې د ولسمشر لمړي مرستیال د خبریالانو د ملاتړ صندوق سره مالي مرسته وکړه، اجراییه رییس هم د خبریالانو او د خبریالانو د ملاتړو ادارو له استازو سره په خپله لمړۍ لیدنه کې د خبریالانو د قتل او ټپي کیدو په دوسیو د غور کولو ټینګار وکړ. حکومت د خبریالانو دملاتړو بنسټونو له پرلپسې غوښتنو او دوامداره تعقیب وروسته د دغه ژمن لیک ځینې بندونه او مادې لکه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون توشیح، د خبریالانو د وژل کیدو او ټپي کیدو د دوسیو څیړنه، د کابینې د قوانینو په کمیټه کې د خصوصي رسنیو د فعالیت مقرره تعدیل کړه اود ولسمشر لخوا د اوو مادو د حکم صادر شو او دولتي اداري مکلفې کړل شوي ترڅو په وخت دقیق اطلاعات له رسینو او خلکو سره شریک کړي دا ټولې هغه کړنې وې چې د حکومت لخوا ترسره شوي دي.
همدارنګه د ولسمشر لخوا  فرمان ورکړل شو او د خبریالانو د امنیت تامینولو په موخه دولتي اداري مکلفې کړل شوې تر څو اطلاعاتو ته د لاسرسۍ په برخه کې همکاري وکړي اود خبریالانو د قتل او تاوتریخوالي دوسیې وڅیړل شي، د حکومت د رسنیو په مرکز کې د حکومت د ویاندویانو مکلف کول ترڅو اوونیزې رسنیزې غونډې وکړي، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په موخه د نظارت کمیسیون تشکیلیدل، د حکومت لخوا  نړیوالې ټولې څخه د یو ځانګړي استازي غوښتنه تر څو د خبریالانو ستونزو ته رسیدنه وکړي، د خبریالانو د خوندیتوب طرزالعمل جوړول، امنیتي ارګانونو ته د خبریالانو سره د ښه چلند په موخه د رسمي یادښت لیږل، د رسنیو د مسوولینو سره د ولسمشر ناستې ددې باعث شوې دي ترڅو، د دغه ژمن لیک یو شمیر برخې عملي شي.
حکومت د رسنیو او خبرنګارانو د یوې کمیټې په رامنځته کولو سره وکولای شول له حکومت سره د خبریالانو او د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو اړیکې په مستقیمه توګه جوړې کړي. همدارنګه په ولایتونو کې د ګډې کمیټې منځته راتګ چې د والیانومعاونین یې مشري کوي، دخبریالانو د خوندیتوب برخه کې ډیرې اغیزناکې واقع شوې دي.همدارنګه د مالیاتي قرضونو د جرمونو رفع کول هم د ولسمشر لخوا له کمو عاید  لرونکو رسنیو سره لویه مرسته وه.
په ټوله کې د خبریالانو د بیان د ازادۍ، رسنیو او خبریالانو د خوندیتوب څخه د ملاتړ لپاره د یو سالم او ګټور میکانیزم رامنځته کول هغه څه و چې بدبختانه د ملي یووالي حکومت لخوا ورته په ټوله دوره کې پوره پاملرنه ونشوه.
په تیرو پنځو کلونو کې له ۵۰ تنو څخه د زیاتو خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو وژل کیدل او د تاوتریخوالي په سلګونو پیښې چې حکومت یې د یوې لوې برخې مسوولیت په غاړه درلود، د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو زیاتوالی ښیي چې حکومت په خپلو کړو ژمنو عمل نه دی کړی او په دې برخه کې څومره چې یې اړتیا وه خپل مسوولیت یې نه دی ترسره کړی.

د بیلګې په توګه په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ م کلونو کې چې کندوز  ښار دوه ځلې سقوط وکړ یواځنې بنسټ چې د خبریالانو د ژوند د ژغورلو په برخه کې یې په سیمه کې فعالیت درلود او خبریالان یې کابل، مزار، بغلان او نورو ولایاتونو ته انتقالول او له دوی سره یې د استوګنې او نورو برخو کې مرسته وکړه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه وه.
په عین حال کې کله چې په فراه ، هلمند او غزني ولایتونو کې جګړه سخته شوله او د لسګونو خبریالانو ژوند له خطر سره مخ شو حکومت د خبریالانو د ژغورنې په موخه هیڅ تابیا نه درلوده او بیاهم یواځینۍ اداره چې له خبریالانو سره یې مرسته کوله د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه وه چې د ملي امنیت ریاست او دفاع وزارت په مرسته یې وکولای شول یو زیات شمیر خبریالانو سره مرسته وکړي.

**اطلاعاتو ته لاسرسی:**

ولسمشر محمد اشرف غني د خپل کار په لومړنیو ورځو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون چې د مخکني ولسمشر له لوري د یوې اوږدې مودې لپاره ځنډېدلي وه توشیح کړ.
اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د بیا ارزونې او اړوندو مراجعو لخوا تر اړینو اصلاحاتو راوړلو وروسته تعدیل، تزید او توشیح شو چې په ۲۰۱۹ م کال کې نافذ شو او د حقوقو د متخصصینو په باور د سیمې په کچه دا قانون یو له غوره قوانینو څخه ګڼل کیږي.
د دې په دوام سره د ولسمشر له لوري هغه حکم چې موخه یې د رسنیو د قوانینو غوره تطبیق و او ورته د بیان د ازادۍ تقویه کوونکی او اطلاعاتو ته د لاسرسي تآمینونکی وویل شول د ۱۳۹۴ کال د سلواغې میاشت کې صادر شو.
په دې حکم کې د اطلاعاتو اوفرهنګ وزارت، د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو کمیسیون او عدلیې وزارت مکلف شوي وو تر څو د تقنینی اسنادو په رڼا کې معلوماتو ډلبندۍ کړي او پر بنسټ یې اداراې خپل مکلفیت د خلکو پر وړاندې چې له هغوې سره د معلوماتو شریکول دي د اداري اسرارو په ساتلو سره او د ملي او بین المللی معیارونو په نظر کې نیولو سره شریک او مراحل یې بشپړ کړي.
په حکم کې راغلي وو چې وزارتونه او دولتی اداري دې د اطلاع رسونې د مکلفیت د غوره تعمیل په موخه او د شرعي اصل پر اساس چې امر په معروف او نهی په منکر دی، د معلوماتو لاس ته راوړلو لپاره د قانوني تسهیلاتو د برابرولو لپاره د اړوندو مسوولینو څخه د حکومت د رسنیو د مرکز په شمول، د ویاندویانو دفترونو، مطبوعاتي واحدونو او د مناسب سلوک په نظر کې نیولو سره د اړیکو او عامه پوهاوي لپاره کار وکړي.
دفاعي او امنیتي اداري دې د قانوني د مکلفیتونو د تعمیل په خاطر اطلاعات وړاندې کړي. له وطن څخه د دفاع ، نظام، اساسي قانون او د هیواد د اتباعو د حقونو او امنیت د خوندیتوب په نظر کې نیولو سره، د امنیتي، حقوقي موجوده شرایطو په نظر کی نیولو سره دې اړونده اداري د رسنیو د کارکوونکو سره څنګه مناسب چلند وکړي، دغه قانون د خپل درسي نصاب جز وګرځوي.
د رسنیزو سرغړونو د څیړنو څرنګوالی ، د حقوقي لانجو حل او د رسنیو د خبریالانو یا کارکونکو د قتل دوسیو ته رسیدنه، د دې حکم له مهمو بندونو څخه وو.
له بده مرغه د ولسمشر دغه حکم د خبریالانو د قتل او اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې لکه څنګه چې لازمه وه هغسې عملي نشو. تر اوسه هم د خبریالانو د وژنو ډیری قضیو ته رسیدنه نه ده شوې، چې همدا خبره رسنیزو بنسټونو ته د اندیښنې وړ خبره ده.
د بیلګې په توګه د معلوماتو ډلبندي او د اطلاعاتو په ورکړه کې د اسانتیاوو رامنځته کول د حکومتي مسوولینو له لوري خلکو او رسنیو ته نه دې شوي، سره له دې چې دوی څخه په متواتر ډول غوښتنې هم شوي دي.
له بلې خوا په همدې مواردو کې له ولسمشر څخه نیولې تر متوسطو مامورینو پورې ټولو په دې برخه کې تعلل کړی دی.
ولسمشر غني مالیزیا، استرالیا او سنګاپور هیوادونو ته تر سفر وروسته کله چې له رسنیو سره ناسته درلوده نو د یو کورني خبریال پوښتنې ته یې ځواب ورنکړ او ویې ویل چې یواځې هغو سوالونو ته ځواب وایي کوم چې د سفر په اړه وي، مګر د الجزیرې خبریال پوښتنې ته یې چې د مسکو ناستې په اړه و ځواب ووایه چې په دې کار سره کورني خبریالان ناراضه شول او اعتراضونه یې وکړل.
همدرانګه په ۲۰۱۶ م کال کې ولسمشر بلخ ولایت ته پخپل سفر کې چې د دې ولایت امنیتي وضعیت وارزوي او په همدې موخه یې په ۲۰۹ شاهین قول اردو کې امنیتي ځواکونو ته پخپلو خبرو کې د هغوئ د کړنو ستاینه وکړه او غوښتنه یې وکړه چې د رسنیو د قضاوتونو په اړه بی تفاوته واوسي او ویې ویل " تلویزونونه یو طرف ته کړئ، پریږدئ چې له هغوئ څخه هوا ووځي خو له تاسو نه ہمونه اوځي".
د ولسمشر دغه څرګندونې د رسنیو له تونډو غبرګونونو سره مخ شوې او رسنیزو ټولنو له ولسمشر څخه غوښتنه وکړه چې له رسنیو بخښته وغواړي. خو بل طرف ته د رسنیو د ملاتړ ادارو لاسرسۍ

ولسمشر ته، د ولسمشر لخوا د بيان ازادۍ سفير ټاکل، څېړنيزو راپورونو او ځينو نورو مواردو ته د خبريالانو هڅول هغه څه وو چې له خبريالانو او د بيان له ازادۍ د ملي يووالي حکومت د ملاتړ ښکارندويي کوي.

**د اطلاعاتو په شريکولو کې د دولتي مسوولينو نه همکاري:**

د ملي يوالي حکومت په پنځه کلنه دوره کي د خبريالانو انديښنه او شکايت د دولت له مسوولينو څخه تل د پر وخت او دقيقو اطلاعاتو د نه شريکولو په اړه و.
دري غټ بريدونه چې په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ م کلونو کې د سردار محمد داود خان په روغتون، په بلخ کې ۲۰۹ شاهين قول اردو او کانټيننټال هوټل کې واقع شو د ځيرنې وړ دي. د سردارد محمد داود خان پر روغتون تر بريد وروسته د ملي دفاع وزارت ويأند د وژل شويو شمير ۳۰ تنه او د ټپيانو شمير ۴۰ تنه اعلان کړ، دا په داسې حال کې ده چې عيني شاهدانو په هماغه ورځ رسنيو ته وويل چې د وژل شويو شمير تر سلو زيات دی چې څو ورځې وروسته حکومت هم وويل چې دغلته تر سلو زيات وژل شوي او تر ۴۶۰ تنو زيات ټپيان شوي دي.
پر ۲۰۹ شاهين قول اردو د بريد په ورځ د ملي دفاع وزارت د دغه بريد تلفات اته تنه ياد کړل، دا په داسې حال کې ده چې د پيښې عيني شاهدانو ويل چې دغه شمير تر سلو زيات دی، طالبانو هم په هماغه ورځ دغه شمير تر سلو زيات ښولی و.
د ۲۰۱۸ م کال په پيل کې په انټرکانټيننټال هوټل تر مرګوني بريد وروسته د کورنيو چارووزارت روغتون ته د اوو ټپيانو د ليږد خبره وکړه خو د پيښې شاهدانو ويل چې دغلته د ۱۴ بهرنيانو په شمول ۲۲ تنه وژل شوي دي.
دغه يو دوه بيلګي وي چې د اطلاعاتو د تناقض او د حکومتي ادارو لخوا د اطلاعاتو د پټولو ښکارندويي کوي.
په زياتره وړو او غټو بريدونو کې چې د مسوولينو د ناسم مديريت په پايله کې په ولايتونو او مرکز کې امنيتي ځواکونه وژل کيږي په لومړيو کې د مسوولينو له لوري رسنيو ته د ټپيانو او وژل شويو په اړه لږه شميره ويل کيده خو وروسته به چې رسنيو له سيمه ايزو سرچينو څخه کوم معلومات لاسته راوړل د تلفاتو شميره به څو برابره زياته وه.

د ملي يووالي حکومت په دوره کې په ډيری ولايتونو کې اطلاعاتو ته لاسرسی له ځنډ او خنډ سره مخ وو.يوائې د ولايت مقام، د امنيې قومندانۍ، قول اردو او د لوا ګانو ويانديان درلودل چې تر يو حده پورې خبريالانو ته مشخص ادرس وو چې د ضرورت په وخت کې ورڅخه اطلاعات تر لاسه کيدلای شول، دا چې دغو ادرسونو څومره له رسنيو سره دمعلوماتو په شريکولو کې مرسته کوله د ا يو جلا مبحث دی چې د هر ولايت د والي او امنيې قومندان د ذوق مطابق يې فرق کاوه.
ډيری وخت به د واليانو، امنيه قومندانانو او لوا ګانو اړيکې له خبريالانو سره داسې وې چې د خپلو لاسته راوړنو پرځای به يې هڅه کوله چې خپلو پروپاکندو ته په رسنيو کې زيات ځای ورکړي، خو هغو معلوماتو ته چې خبريالانو ضرورت درلود دوی هڅه کوله چې وخت ضايع کړي او معلومات په وخت ورنکړي چې دې کار خبريالان له جدي ستونزو سره مخ کړي وو.
له پورتنيو يادو شويو مقاماتو او مراجعو څخه پرته زياتره دولتي ادارو د اطلاعاتو په نامه څه نه پيژندل او ډير کله به چې خبريالان ورته د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ورتلل نو دوی ته به د خندا وړ خبره ښکاري ده.
په ټوله کې حکومتوال تر اوسه پورې له خبريالانو سره د همکارۍ روحيه نلري او غالبآ حکومتي مامورين کله چې معلومات هم له رسنيو سره شريکوي دا مرسته ګني نه خپل قانوني مسووليت، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د حکومتي کارکوونکو تر مينځ لازمه همکاري نه ده شوې او يو زيات شمير مامورين د دې قانون له مواردو خبر نه دي.

**تروريستي ډلو ته خبريالان د نرمو خو مهمو هدفونو په توګه:**

د حکومت، خبريالانو او رسنيو نه پاملرنه له يوې خوا او د جګړې د بڼې بدلون او د تروريستي ډلو له خوا د بريدونو شدت له بل لوري له لا زيات ګواښ او خطر سره د خبريالانو، د رسنيو د کارکوونکو او رسنيو د مخ کيدو له اصلي لاملونو څخه وو.
د ملي وحدت حکومت په پنځه کلنه دوره کې د خبريالانو او رسنيو د کارکوونکو خونديتوب، نيغ په نيغه د هيواد له عمومي وضعيت سره تړاو درلود. د داعش په نامه د يوې نوې تروريستي ډلې رامنځته کيدل چې تر طالبانو لا زيات بې رحمه وه او د فعاليت ساحه يې هم تر ډيره ملکي خلک وو، خبريالان له لا زياتو او جدي ستونزو او ګواښونو سره مخ کړل.
له ۲۰۱۴م کال وروسته د جنګ د بڼې او جبهې بدلون، د خبريالانو پر وړاندې ګواښونه يو په څو ځله زيات کړل. له دې وړاندې خبريالانو ګولای شول چې په ډيری مواردو کې کله چې د دولت د وسلوالو مخالفينو له لوري له ګواښ يا ستونزې سره مخ کيدل، په ځانګړې توګه د نامعلومه کسانو له لوري د ټليفوني ګواښونو پر مهال، د طالبانو له ويندويانو يا سيمه ايزو قوماندانانو سره اړيکه ونيسي او کم له کمه د ګواښ د څرنګوالي يا هم علت په اړه ځان خبر کړي،خو له ۲۰۱۴کال وروسته وضعيت په بشپړه توکه بدل شو. خبريالان چې ملکي خلک دي او له مسلکي اړخه له هيڅ يوې ډلې يا شخص سره کومه ستونزه نه لري په خپل بې پريتوب د بشپړډاډ او باور له کبله څوڅو ځله غافلګيره شوي او په ډله ايزه يا هم انفرادي توګه وژل شوي دي. په ۲۰۱۸کال کې د کابل ښار په شش درک کې او بياهم د کابل په څلورمه کارته کې له يوه ورزشي ځای نه د خبر جوړولو پر مهال له بريدونو سره د خبريالانو مخ کيدل او د هيواد په يوشمير ولايتونو کې پر خبريالانو دغه شان بريدونه يادولی شو.
خو تروريستي ډلو په ځانګړې توګه داعشيان چې ددغه شان ګڼ شمير بريدونو پړه يې منلې ده، خبريالان خپل اصلي دښمنان ګڼل او ټمه يې دا وه چې هغه ادعاوې چې تروريستي ډلې يې کوي خبريالان يې هم ددوی له چشمو وګوري او پرته له کومې څيړنې او ارزونې يې ددوی له لارښوونې او مشورې سم هماغسې هو به هو پرته له کوم تصرف و بدلون څخه خپرې کړي.
داعش ډلې د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښار کې په انعکاس راډيو ټلويزون او په کابل کې پر يو ورزشي لوبغالي د برېد د مسووليت منلو ترڅنګ په شمشاد راډيو ټلويزون او دغه راز د کابل په شش درک کې پر يوه ډله خبريالانو د بريد پړه ومنله چې پکې ۹تنه خبريالان ووژل شول او يوشمير نور هم ټپيان شول.
داعشيانو په ننګرهار ولايت کې يوه راډيو هم فعاله کړې وه چې له هغې لارې هم خبريالان او رسنيزفعالين په مرګ ګواښل، چې وروسته بيا دغه راډيو د افغان ځواکونو له لورې له منځه يوړل شوه.

**د ۲۰۱۸م کال د ټاکنو په پايله کې راتلونکي نوي حکومت نه د خبريالانو او د هيواد د رسنيو د کورنۍ غوښتنې، وړانديزونه او هيلې:**

د هيواد خبريالان له نوي حکومت څخه غواړي ددوی هغه غوښتنې چې په تيرو حکومتونو کې ورته پام نه دی شوی او يا هم با بيزه ګڼل شوي جدي پاملرنه وکړي.

۱- د بيان د ازدۍ په اړه د قوانينو، مقررو او لوايحو او دغه راز د کار او رسنيو د قوانينوعملي کول.

۲- د بيان د ازادۍ تامينول هغسې چې د هيواد په قوانينو کې ځای ورکړل شوی دی.
۳- د عدلي او قضايي ادارو له لوري د خبريالانو د وژل کيدو او ټپي کيدو د دوسيو څيړنه او ارزونه او خلکو او رسنيو سره يې د نتايجو شريکول.
۴- د خبريالانو پروړاندې د تاوتريخوالوعاملينو ته د قانوني سزا ورکولو لپاره جدي کار کول.
۶- نوی حکومت دې د خبريالانو او رسنيزو فعالينو د ځاني امنيت او ساتنې لپاره ځانګړې او عملي ګامونه پورته کړي او ددوی پر وړاندې د هر ډول تاوتريخوالې د مخنيوي لپاره خپلې هيڅ ډول هڅې ونسپموي.
۷- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې د خبريالانو او رسنيو پر وړاندې خپل مسووليت په سمه او قانوني توګه ترسره کړي او په هيواد کې د رسنيزو فعاليتونو د سمبالونوکې ادارې په توګه دې د يويو خبريال او رسنيو يو شان او اغيزناکه توګه هر اړخيز قانوني او جدي ملاتړ وکړي.

۸- د هیواد په قوانینو په ځانګړې توګه د جزا په قانون او د جزا په کوډ کې د خاصو مادو ورزیاتول چې له مخې یې هغو کسانو ته سزا ورکړل شي چې خبریالان د کار په جریان یا د خبریالۍ د کار په خاطر ګواښي یا تاوتریخوالی ورسره کوي.
۹- د خبریالانو د کاري خوندیتوب د تامین لپاره دې د کار د قانون په چوکاټ یا په خوا کې نوي قوانین رامنځته او د تصویب او تنفیذ لپاره یې هڅه وکړي.
۱۰- د خبریالانو د ملاتړ ملي صندوق دې په واقعي معنا یو اغیزناک او ملي صندوق وګرځوي او ددغه صندوق صلاحیتونه دې یو ګډ او متوازن بورډ ته وسپاري چې د رسنیو د ملاتړو ادارو له استازو جوړ او د یاد شوي طرزالعمل له مخې اصلاح او د اشخاصو، وزارتونو یا نورو حکومتي مراجعو مخنیوی دې وشي چې ددغه صندوق په اجرایوي چاروکې لاسوهنه ونکړي او ترڅنګ یې پخپله ولسمشر ددغه صندوق د مالي غني کیدو لپاره هڅه وکړي.

**پایله**

۲۰۱۹کال په افغانستان کې نظر تیرو کلونو ته د تلفاتو او ځاني زیانونو له اړخه یو څه غوره کال و، خو په ټوله کې تاوتریخوالي، ګواښونه او د خبریالانو پر وړاندې ناسم چلند لا هماغسې پر خپل ځای پاتې دي. د خبریالانو د مرګ ژوبلې را کمیدو هغه جدي اندیښنې چې ددوی د امنیت په اړه موجودې وې یو څه را کمې کړې دي خو لاهم خبریالان او رسنۍ د خوندیتوب له اړخه له ګواښ سره مخ دي. په دغه کال کې د رسنیو مالي ستونزې لا زیاتې شوې او معلوماتو ته د لاسرسي ستونزه هم هماغسې پر خپل ځای پاتې ده.
د سولې د خبرو اترو په خاطر د طالبانو له لوري خبریالانو او رسنیو ته وړپېښ ګواښونه را کم شوي دي او د داعشیانو ګواښونه هم د دوي پر وړاندې د پوځي عملیاتو د ترسره کیدو له کبله کم شوي دي. د سولې د خبرو اترو په جریان کې د افغانستان پر لاسته راوړنو په ځانګړې توګه د رسنیو او بیان د ازادۍ برخه کې لاسته راوړنو باندې نه تمرکز د افغانستان رسنیزې ټولنې او خلکو ترمینځ اندیښنې رامنځته کړې دي.

**سپارښتنې**

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه باید له طالبانو سره د سولې خبرو اترو کې د بیان د ازادۍ او رسنیو په برخه کې جدي موقف غوره کړي. رسنیو او د بیان ازادۍ له ۲۰۰۱کال وروسته د افغانستان د یوې ستړې لاسته راوړنې په توګه ، د ښې حکومتوالۍ، د ډموکراسۍ د پیاوړتیا، د بشري حقونو د غښتلي کیدو او د هیوادوالو د عامه پوهاوي د لوړاوي برخه کې خورا مهم رول لوبولی دی.
ددغې برخې کمزوري کیدل او یاهم شا ته تګ به په ټولو پورته یادو شویو برخو کې د شاتګ په معنا وي.
- د ۱۳۹۸کال د ولسمشریزو ټاکنو پایله کې چې کوم نوی حکومت رامنځته کیږي،باید د هیواد له خبریالانو او رسنیزې ټولنې سره په سلا په خورا جدیت سره د بیان د ازادۍ برخه کې د موجودو تشو د ډکولو او خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو د خوندیتوب لپاره پر یو عملي میکانیزم کار وکړي او په واقعي توګه دې د ولسواکۍ ددغه اصل ملاتړ او درناوی وکړي. په دغو هڅو کې باید د بیان او رسنیو د ازادۍ برخه کې د شته قوانینو،مقررو او لوایحو په جدي توګه عملي کیدل شامل وي.
- د خبریالانو او حکومت ترمینځ د خوندیتوب ګډه کمیټه د حکومت له لوري د ستاینې وړ یو ګام دی. خو ددغې کمیټې پریکړې په سمه توګه نه دي عملي شوي او دغه کار د یادې کمیټې د اغیزې د کمیدا لامل شوی. ګډه کمیټه باید د خپلو پریکړو لپاره یوه اغیزناکه میکانیزم رامنځته کړي. په دغه میکانیزم کې باید د کمیټې د کړنو څارنې او ارزونې لارې چارې هم شاملې وي.
- د رسنیو د مالي ملاتړ لپاره باید حکومتي اعلانونه په مساویانه توګه د ټولو ملي، دولتي او خصوصي رسنیو ترمینځ وویشل شي. حکومت باید په دې برخه کې یوه مقرره رامنځته کړي.
- د رسنیو مالکان باید د خپلو خبریالانو او کارکوونکو خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي او هم د خپلو رسنیو د ودانیو د امنیت ساتنې لپاره پخپله متې رانغاړي. امنیتي بنسټونو ویلي دي چې په دغه برخه کې به له رسنیو سره هر ډول لازمي مرستې وکړي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه هم تیاره ده چې په دې برخه کې رسنیو سره خپلې ګټورې سلا مشورې او لارښوونې شریکې کړي.
- نړیواله ټولنه هم باید د بیان او رسنیو ازادي چې په تیرو دوو لسیزو کې ددوی په مرسته او ملاتړ بنسټیزې شوې دي، په خپلو ستراتیژیکو لومړیتوبونو کې شاملې کړي او له دغو ارزښتونو د ملاتړ برخه کې فعال رول ولوبوي.
- خبریالان او د رسنیو کارکوونکي دې تر ټولو زیات د خپل ځاني خوندیتوب په فکر کې واوسي او د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په هغو روزنیزو پروګرامونو کې دې ګډون وکړي چې ددوی د خوندیتوب په پار جوړیږي. له دې سره خبریالان باید د خپلو مدیرانو هغو غوښتنو ته غاړه کښېنږدي چې امنیتي مسایل په پام کې نه نیسي او غواړي خبریالان پرته له لازمو تیاریو او وسایلو د جګړې او تروریستي پیښو د خبري پوښښ لپاره سیمې ته واستوي. د اړتیا په صورت کې خبریالان هرکله کولای شي چې د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټې سره اړیکه ونیسي.